ډاکټر احسان الله آذري ستانيزی ۲۰۱۱/۱۱/۲۴

# د افغانستان غميزه، پاکستان او امريکا

د روان کال د سپټمبر په يولسمه د پاکستان دولت د ۳۶ زرو ډالرو په بيه د امريکا په وال سټريټ ژورنال کې په امريکا باندې د ۲۰۰۱ د سپټمبر د يولسمې د يرغل د کاليزې په مناسبت يو لوی تبليغاتي اعلان خپور کړی و. د دې اعلان په يوه برخه ليکل شوي و: « د ۲۰۰۱ نه راهيسې د ۱۸۰ ميليونو خلکو هيواد د نړۍ د اووه بليونه خلکو د راتلونکې لپاره په جګړه بوخت دی!... ايا بل هيواد به داسې وکړي؟ خو دا يوازې پاکستان دی چې نړۍ ته د سولې ژمنه کوي.»



د سپټمبر په درويشتمه د امريکا د پوځ لوی درستيز امير البحر مايک مولن د امريکا کانګرس ته وويل: « پاکستان د خپلو مزدورانو په واسطه افغانستان ته افراطي ورانکاري صادروي.» يوه اوونۍ وروسته د سپټمبر په دېرشمه همدې امير البحر بيا وويل: « زه تل په دې اند يم چې له پاکستان نه پرته د سيمې لپاره حل نشته.»

که دا ضد او نقيض توره کميډي ګڼئ او يا د پوچيزم تياتر(۱)، په هر حال دا ډول څرګندونې د افغانستان په وړاندې د امريکا او پاکستان د اړيکو او دريځونو د پيچلتيا هنداره ګڼل کيدای شي.

په افغانستان کې جنګ يوې ډېرې ټاکونکې تاريخي شيبې ته رسيدلی دی. د نړۍ يوازينی ابر ځواک پرخپل ټول توان هڅه کوي ځان له ماتې وژغوري. دا دواړه هيوادونه ځان بيوسه ويني، امريکا د خپلو کورنيو اقتصادي لانجو او پاکستان د خپلو ملي ګټو د اجبار په لومو کې را ګير شوي دي.

په افغانستان کې د جنګ راتلونکې به لا اقل د اوس لپاره د امريکا او پاکستان د اړيکو په پايلو پورې تړلې وي. اوس چې په سيمه کې ټول له امريکا څخه د خلاص شوي افغانستان د رامينځ ته کيدو لپاره په بيړه تياری نيسي، د پاکستان پوځ او جاسوسان سرې تبې نيولې او د افغانستان د تباهۍ په بيه په سلو جبهو کې جنګيږي څو پاکستان وژغوري.

له دېرشو کلونو څخه له زياتې مودې راهيسې په افغانستان کې بې پايه جنګ، بهرنيو اشغالونو او د هغو پايلو پاکستان ته طلايي چانسونه ورپه برخه کړل څو افغاني سياسي او نظامي ځواکونه او افغانستان د خپلو ناروا ګټو لپاره برمته کړي. پاکستان تر دې دمه هڅه کړې چې هم د امريکا د ګټو ساتونکی او هم طالبانو ته د خواخوږي په توګه پاتې شي، خو اوس هر څه د بدليدو په حال کې دي. د امريکا او پاکستان د شپيتو کلو يارانه د خرابوالي په لور روانه ده. امريکا هغه څه غواړي چې پنجابيان يې د پاکستان لپاره ځانوژنه بولي. د بادار او غلام ـ د مداري او د مداري د شاګرد لوبه پيل شوې.

دلته لومړۍ پوښتنه دا ده چې پاکستان ولې له امريکايانو سره مخالفت وکړ؟

ځواب څرګند دی. د جوړښت له لومړۍ ورځې تر اوسه پاکستان پښتانه د ځان وجودي ګواښ ګڼلي او له پښتنو سره نور د بربنډې دښمنۍ توان نه لري. د سوات او جنوبي وزيرستان پيښو دا په ډاګه کړه چې د پاکستان پوځ له پښتنو سره په جنګ کې خپله برباديويني، ځکه په دواړو سيمو کې پاکستاني پوځ ماته خوړلې وه.

که چيرې دوی د طالبانو په مورچلونو يرغل وکړي پښتونستان خپلواکۍ ته رسيږي. همدا اوس که طالبان په پاکستان کې يوازې ووايي چې د دوی تر کنټرول لاندې سيمې نور د پاکستان برخه نه ده، په افغانستان کې به د جنګ نقشه يو ځل بدله شي او امريکايان به بيواکه شي څو خپل اشغال او د پښتنو قتل عام ته د تروريزم پر ضد جګړه ووايي.

پنجابي جنرالان ډېر ځيرک او هوښيار دي. دوی موږ ډېر ښه پيژني او د اسلام نقاب يې يوازې د پښتنو د غولولو لپاره اغوستی دی. بله موضوع چې موږ يې تل له ياده باسو هغه د پاکستان ټولنيز حقايق دي. پاکستان د افغانستان په شان يو طبيعي او خدا داد هيواد ندی. د اولس پيژندنې يا انټروپولوژي پوهان او مورخين پاکستان د هغو ټولنو په کتار کې ګڼي چې له استعمار نه وروسته جوړ شوي. په دې ټولنو کې استعمار ته د پلار په سترګو کتل کيږي. په دې ټولنو کې د استعمار د ژبې، فرهنګ او دارايي تر لاسه کول يو لوی نعمت ګڼل کيږي. دې هيوادونو ته postcolonial ټولنې هم ويل کيږي. همدا اوس اوس د هند د اوتراپرديش په يوه کلي کې د انګريزي ژبې خيالي الهې ته عبادت کيږي.

په نولسمه پيړۍ کې جواد الدوله سيد احمد خان هغه توره او بدنومې څيره وه چې برتانوي استعمار يې د هند لپاره د خدای ډالۍ ګڼله. سيد احمد خان انګريزانو ته د سيد جمال الدين افغاني جاسوسي کوله او حکيم الشرق د ده د دهريت او انګرېزانو ته د مزدورۍ پر ضد ګڼ شمير مقالې ليکلي دي. ځينې تاريخ پوهان وايي چې د پاکستان د جوړولو مفکوره انګرېزانو ته همدې سيد احمد خان ورکړه.

د بنګله دېش له جوړولو نه وروسته پنجابيا نو د پاکستان د ساتلو لپاره په ناڅاپي ډول د اسلام نارې پيل کړې. له ذوالفقار علي بوټو نه پخوا ټولو پنجابي مشرانو په ښکاره د پاکستان دولت يو سيکولر هويت باله. د پاکستان لومړي جمهور رييس


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

جنرال سکندر میرزا یو وخت له محمد علي جناح نه پوښتنه کړې وه چې ایا دی اسلامي دولت جوړوي؟ جناح په ځواب کې ویلي و چې « دا بې معنی خبرې پرېږده، زه یو مډرن دولت جوړوم.»

په خپله محمد علي جناح د پاکستان د کرغېرن هویت استازیتوب کوي. محمد علي جناح چې اوس قاید اعظم، د پاکستان بابا او بنسټ ایښودونکی شوی دی، ملایانو کافر اعظم باله. د جناح نیکه پونجا گوکلداس میهجي د هند د گجرات یو هندو و. د جناح مور اسماعیلیه شیعه او دوهمه ښځه چې له ده نه کابو دېرش کاله وړه او مجوسه وه. لکه چې روسانو به د لینن هویت چې مور یې یهوده وه پټاوه، پنجابیان هم د جناح هندو هویت پټوي. چرچل به تل جناح ته ویل چې له ده نه لرې ودرېږې څو خلک د ده د جاسوس گمان پرې ونکړي.

پنجابی لیکوال طارق علي په خپلو دوو کتابونو Speaking of Empire and Resistance او The Duel کې په دې موضوع رڼا اچوي او کاږي چې جناح هیڅ په دین عقیده نه درلوده. دی یو شراب خور سړی و او کله به چې لاهور ته راته شپې به یې د انگرېزانو په هوټل کې کولې. کله به چې خلکو پوښتیده چې ولې دې هوټل ته ځې؟ ده به ځواب ورکاوه: « زه دې هوټل ته د دې لپاره ځم چې هلته د سبا ناری په وخت د خوک غوښه او هگۍ ورکوي.» (۲) د خوک غوښه او هگۍ Egg and Becon د انگرېزانو غوره سباناری دی.

د هند ډېرو مهمو دیني علما وو د پاکستان جوړول نه منل. مولانا عبدالکلام ازاد او حتی مودودي او نورو د پاکستان جوړېدا د انگرېزانو پلان گڼله. له ۱۹۴۷م کال نه پخوا « جماعت اسلامي او جمعیت علمای اسلامي دواړو د پاکستان زېږېدنه د ربښتیني اسلام پر ضد یوه سیکولر توطیه گڼله.» (۳)

طارق علي دا هم په ډاگه کوي چې مسلم لیگ گوند په هند کې د انگرېز وایسرای لارډ مانتو له خوا په ۱۹۰۶ م کې جوړ شو. د مسلم لیگ په اساسنامه کې لیکل شوي و:

« مو‌ږ د هند د مسلمانانو، خوانینو او تعلقدارانو دا سازمان د دې لپاره جوړ کړ چې د برتانیا د امپراطورۍ لپاره ژمنتیا او لیوالتیا زیاته کړو.»

مشهور انگرېز شاعر اودن Auden د پاکستان د جوړېدا په باره کې یو ډېر غوره شعر « بیلتون» لیکلی و چې په ۱۹۶۶ م کال کې خپور شو. شاعر هڅه کوي د هغه استازي حال بیان کړي چې د انگلستان د حکومت لخوا ټاکل شوی و څو د نوي هند او پاکستان نقشه جوړه کړي. تر ټولو خندنی خبره دا وه چې دې استازي هیڅکله هند نه و لیدلی او څو اونۍ وخت ورکړ شوی وو څو له هند سره د پاکستان پولې وټاکي.

د شعر په یوه برخه کې راغلي:

هو، دی استول شوی و،
ځان یې په یوه لرې پرتې ماڼۍ کې بندي کړی و
څارگرو به هرې خوا ته د ده لپاره پیرې کولې
ده په کار پیل وکړ څو د میلیونونو خلکو برخلیک جوړ کړي
د ده په لاس نقشه ډېره زړه او ارقام یې ناسم ول
ده وخت نه درلود څو د ارقامو کره او نا کره معلومه کړي
هوا په ډارونکي ډول توده وه ـ او د اسهال د ناروغۍ له لاسه
ده هرې خوا ته منډې او رامنډې وهلې
په اوو اونیو کې هر څه بشپړ شول او پولې وټاکل شوې
یوه وچه خدای پوه شه د څه لپاره ووېشل شوه
دی سبا په بیړه بیرته انگلستان ته روان شو
هر څه ژر هیر شول
خو بیا هلته لاړ نشو
ځکه څنگه چې ده ټولو ته ویلي و په گولیو ویشتل کیده(۵)

د پاکستان د پوځ او ای اس ای جنرالان د پاکستان د ساتلو لپاره د هر جنایت کولو ته تیار دي.

جنرال کیاني د افغانستان د راتلونکي په باب د امریکا له یوه پوهنتون نه ماستري ترلاسه کړې ده. جنرال حمید گل د دې شر البلاد بې ساری پښتون دښمنه منافق دی. گل ته اوس پنجابیان د پاکستان زړه ور زمری وایي. دی په اردو ژبه «لوی مجاهد»، د طالبانو خواخوږی او ان د دوی ویاند دی خو په انگلیسي ژبه د انگرېزانو ناظر. گل اوس اوس له راولپنډۍ نه د امریکا د پوځ د مخکښانو د خپرندویي موسسې Veleran Today سره یو اډیټر او ډایرکټر هم دی. څه موده دمخه یوه ورځپاڼه لیکونکي د دې امریکایي موسسې له چارواکو وپوښتل چې دا څنگه کیدای شي چې دا «مجاهد» ستاسو یو ډایرکټر وي؟ هغو ځواب ورکړ چې « زموږ همداسې سړی په کار دی.»

د جنرال حمید گل څو خبرې تل زما په ذهن کې گرځي:


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

« که غواړئ د کابل واورې تودې کړئ، کابل ته اور واچوئ... ای اس ای یوه ډېره تیره چاړه ده چې هم پیاز پرې میده کیږي او هم د یوه سړي سر پرې غوڅیږي... زما مینه او هوس پاکستان دی ... له پاکستان نه پرته له طالبانو سره خبرې اترې هیڅ امکان نه لری. د پاکستان له ګټو نه دفاع زموږ جهاد دی.»
اوس ټوله نړۍ نارې وهي چې طالبان د همدغو جنرالانو په امر کار کوي، حتی پاکستان هم دا خبره اوس مني او وايي چې د طالبانو کنټرول د پښتنو کنټرول دی او دا د پاکستان د بقا یوازینی ضمانت دی. له دې سره سره د امریکایانو د اغفال په مقصد کله نا کله پاکستان طالبان هم وژلي دي او هم يې د دوی پټنځایونه امریکایانو ته وربښودلي دي.
د امریکا او پاکستان اوږد مهالي ګټې اوس په تضاد کې دي او دا ټولې لفظي شخړې يې واقعیت لري. خبره داسې ځای ته رسیدلې ده چې امریکایان له پاکستاني پوځ او په تیره بیا له ای اس ای نه غواړي چې دوی د طالبانو پر ضد هرومرو باید سوات او جنوبي وزیرستان ته ورته پوځي عملیات وکړي. پاکستاني جنرالان وايي چې دوی د دې توان نه لري، ځکه د سوات او جنوبي وزیرستان تجربو جوته کړه چې طالبان ښايي زیانمن شي خو د ماتیدو نه دي. امریکایان دا ځل ډېر جدي دي. د دې لپاره چې امریکایان یو څه کرار شي، اصف علی زرداري نوی پلان جوړ کړ. فاینانشیل ټایمز ورځپاڼې د اکتوبر په لسمه ولیکل چې « تیره اونۍ اصف علي زرداري اوباما ته په وار وار ټیلفونونه وکړل او ایمیلونه يې واستول چې پاکستان به د ای اس ای ۵ـ څانګه لغو کړي، ځکه همدا څانګه د طالبانو لارښوونه کوي.»
خو امریکایان دا کافي نه ګڼي او په بیړه غواړي د طالبانو پر ضد نظامي او تبلیغاتي پرمختګونه لاس ته راوړي او د دې بریاوو له کبله په راتلونکو دوو مهمو غونډو کې چې د نومبر په میاشت په استانبول او د ډسمبر په میاشت په بن کې کیږي امتیازونه تر لاسه کړي. ټاکل شوې ده چې په استانبول کې به د افغانستان په باب سیمه ییز او په بن کې نړیوال تصامیم ونیول شي.
ځینې سیاسي کتونکي باور لري چې د افغانستان مسئله باید د سیمه ییزو هیوادونو د یوه توافق په ترڅ کې حل شي، خو واقعیتونه او تجربې ثابتوي چې داسې یو جوړ جاړی شونی نه دی، ځکه د افغانستان هر ګاونډی هیواد د یوه خپلواک او با ثباته افغانستان مخالف دی او هر یو د دې په لټه کې دی چې د افغانانو په وینو لړلې مړۍ د دوی له خولې وتښتوي.
په پای کې د افغانستان د ناورین دا حال دی او زموږ د هیواد د ستر خو لوېدلي قامت سر ته سام کاکا او پښو ته جنرال چودري ناست دی. همدوی د افغانانو او د دوی د پښتو د عظمتونو لاره بنده کړې ده.
هغه څه چې زموږ هیواد ژغورلی شي یو ملي زعامت دی چې له بده مرغه موږ يې نه لرو او افغانان ناهیلي دي چې بیا به د دوی ګټلی ډګر د پردو شي.
یو انګرېز مورخ توین بي وايي چې مدنیتونه وژل کیږي نه، خو پخپله ځان وژنه کوي. امریکا اوس په همدې لاره وردرومي. که چیرې امریکایان له خپل ځان او افغانانو سره صادق شي، دوی کولای شي هم افغانانو ته د خپل برخلیک د ټاکلو حق ورکړي او هم له افغانستان څخه خپل پوځونه په عزت وباسي.
دا لاندې دوه اقدامات همدا شرایط برابرولای شي:
لومړی: د کابل په حکومت کې باید ډېر ژر بنسټیز بدلونونه رامینځ ته شي.
دا حکومت باید د اضطراري دورې لپاره ناپیيلی حکومت وي څو د افغانستان په دننه کې د متارکې او ملي پخلاینې زمینه برابره کړي.
حامد کرزی او د ده حکومت باید دا ومني چې دا یو حزبي او د قومي توپیر پر بنسټ یو تپلی حکومت دی. دا حکومت یوه لویه تاریخي ناکامي او د افغانستان د فاجعې یو مهم لامل دی. په اوسنۍ بڼه دا حکومت زموږ د ماضي یوه برخه ده او په راتلونکي کې هیڅ ځای نه لري.
راځئ په دې باب يې له هغو نه واورو چې همدا حکومت يې په خپلو وینو او پیسو ساتلی دی.
د لندن ګارډین ورځپاڼې د اکتوبر په اوومه ولیکل:
« لس کاله دمخه هغه وخت چې پر کابل د بمونو باران پیل شو یو پښتون مشر د یوه موټر سایکل په سورلۍ د پاکستان له پولو څخه د افغانستان خاورې ته ننوت. د ده په سر پټکی و خو کلک ترل شوی نه و، ده سي ای اې ته ټیلفون وکړ او د خاصو ځواکونو څرخکې يې راوبللې.»
خو د کابل د حکومت جوړونکي دا نه مني. څه موده دمخه ډاکټر زلمي خلیلزاد د بي بي سي د ټلویزیون انګرېزي پروګرام ته وویل:
« د تیرو لسو کلونو په موده کې افغانستان ښه ځای شوی دی او اوس افغانان زیات عمر کوي.»
دوهم: له پاکستان او ای اس ای څخه پرته د افغانستان په دننه کې له وسله والو مخالفینو سره په صداقت سره جدي خبرې اترې. د وسله والو مخالفینو نوره انزوا او پر نظامي حل ټینګار یوازې د پاکستاني جنرالانو په ګټه او د امریکا په تاوان دی. دا لاره لس کاله ووهل شوه او پرته د افغانستان او امریکا له بربادۍ نه يې هیڅ پایلې نه درلودې.
باید په یاد ولرو چې د افغانستان لانجې او جنګونه هیڅ وخت د کابل په کوڅو کې نه دي حل شوي. د افغانستان ټول راز د غرونو شاته دی، د دې هواد برخلیک تل همدلته ټاکل شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یادښتونه:

۱- توره کمیډي یا تور طنز هغه ډرام ته ویل کیږي چې ډېر غمیز موضوعات لکه مړینه، جنایت او یا جنګ د حیرانولو لپاره په خندني ډول بیان کړي.
په سیاسي بحثونو کې د پوچیزم تیاتر هغې ډرامې ته ویل کیږي چې نړۍ او ژوند بې معنی او پوچ ښکاروي.

2- Ali Tariq, (2005) *Speaking of Empire and Resistance*, Scribe Publication Pty Ltd, Victoria, P.105

3-, (2008),*The Duel; Pakistan on the flight of American Power*, Simon & Shuster, London, P. 23

4—— , ( 005) *Speaking of Empire and Resistance*, Scribe Publication Pty Ltd, Victoria, P.100

5_ The New York Times, 5 May 2009


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ